# ځوک چې زموږ په دې ديني امر (شريعت) کې نوښت رامنځته کړي چې له دې دين څخه نه وي، نو هغه (عمل) رد دی

له أم المؤمنين أم عبد الله؛ عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «ځوک چې زموږ په دې ديني امر (شريعت) کې نوښت رامنځته کړي چې له دې دين څخه نه وي، نو هغه (عمل) رد دی». او د مسلم په روايت کې راځي چې: «ځوک چې داسې عمل وکړي چې زموږ د امر (شريعت) مطابق نه وي، نو هغه (عمل) رد دی».

[صحيح دی] [البخاري او مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم بيانوي چې چا په دين کې کوم شی له ځانه جوړ کړ او يا يې داسې يو عمل وکړ چې له قرآن او سنت نه پرې دليل نه وي، نو هغه يې په خاوند مردود دی او الله جل جلاله ته د منلو وړ ندی.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/66514